مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۱/۰۹

# د تبعیدیانو سرود

نه! داسي نه ده، چي زموږ به نه یادیږي وطن
دلته، سینه کي دی، د زړه غوندي درزیږي وطن

په خوب یې نه وینو، وطن نه لري خوب چېري دی؟
د رڼو اوښکو د پردو تر شا ښکاریږي وطن
نه! دلته نه ژاړو، بس نه ژاړو د ده لپاره

سترګو کي ډنډ ولاړ، خو نه رانه تویږي وطن
نه ژاړو، نه ژاړو او نه غواړو چي دا خپه شي

دا مو ادي ده او په موږ باندي دردیږي وطن
موږ خپلي چیغي خښي کړي دي زخمي غاړو کي
دوښمن په چیغو خوشالیږي او نړیږي وطن

دوښمن به نه وي لا خندلي، دا ایمان دی زموږ
که موږ ورنه شو، بېرته موږ ته راستنیږي وطن

تورو پیریانو او یو سترګي دیو وطن لاندي کړ
غلي شئ! غوږ ونیسئ! څرنګه ځګیروږي وطن

د استبداد امیره! کوم ایوب به ژر تبعید کړې؟
په پېښور کي یې مزار ته ورخوریږي وطن

موږ آدمزاد یو، له جنته شړل شوي عشقه
زموږ په بېلتون کي د غنم غوندي چاودیږي وطن

د حوا مینه کي موږ دواړو کفاره ورکړله
موږ د دونیا په سفر وتي او کړیږي وطن

موږ تبعید شوي کلیمیان یو له سپېڅلي خاوري
د مائدي غوندي له خدایه رارسیږي وطن

موږ تبعید شوي یو، خو چا ویل؟ مات شوي نه یو
لکه مات هډ به بس په موره کوشیریږي وطن

موږ تبعیدیان یو، خو کیسه له سره بیا پیل ده
په دې تیاری پسي به لمر غوندي راخیژي وطن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

مورِ تبعیدیان یو او کیسه د داسې فصل کوو
چې زموږ په هډ هډ به بیا ببړته ودانیږي وطن

ریښه اوبو کې ده، پرڅانګې غوټۍ ویني سپرلی
موږ به زړیږو، خو له سره به ځوانیږي وطن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ